دیحیات شهادت سلسله آن استقیم ... تا بر مردم ... شیپور باشید

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

(٤) صفحه

نمبرمسلسل (١٣٤٥) سال نزدهم شماره (١٣١) یکشنبه (٢٦) حوت ١٣٧٥هـ ش (٨) ذی القعده ١٤١٧ هـ ق (١٦) مارچ ١٩٩٧م

صاحبنظران دراوضاع کشور میگویند :

جنگ خونین تر آغازشدنی است

عبورازهندوکش مشکل است ولی محال نیست

طالبان چانس ایجادشگاف درشورای دفاع را دارند

شورای دفاع به طالبان اجازه پیشروی خواهد داد

میان احمدشاه مسعود و جنرال دوستم هماهنگی فکری وروحی وجود ندارد

کابل (ا . اف . پی) - ٢٤ حوت : تحلیگران ومبصرین اوضاع افغانستان درکابل معتقد اند که مساعی صلحجویانه بین المللی درافغانستان باشکست مواجه شده وهمزمان بافرارسیدن فصل بهار دور جدیدی از جنگ ودرگیری میان طالبان ومخالفان (شورای دفاع) آغازمیشود. آژانس خبری فرانسه گزارش میدهد: علاقمندی صاحبنظران به این امرمعطوف شده که نیروهای حکومت مخلوع تحت فرمان احمدشاه مسعود متحد جنرال دوستم جنگ سالار شمال چگونه میتوانند ازحملات طالبان که درحال حاضر دو سوم افغانستان را تحت کنترول خود دارند

بقیه صفحه (٤) ستون (١)

الهی لارښوونی

الم

الله (هماغه ذات دي چي نشته دي اله مګردي هماغه ژوندي ټینګ قائمونکي (دټول عالم - اودچارو مدبرېي) نه یې نیسي پرمسکي او نه خوب . ده لره دي څه چي په آسمانونو کي دي او څه چي په ځمکه کي دي - څوك دي هغه چي دده خواکي سپارښتنه وکړي مګر دده په حکم پوهیږي په هغه څه چي ددوي دلاسونو ترمنځ دي (مخي ته یې دي) اوهغه څه چي وروسته یې دي - او دده دعلم په هیڅ څه احاطه نشي کولي مګرپه هغه څه چي غوښتي یې دي - پراخه شوي ده کرسي یې آسمانونو اوځمکي ته (په آسمانونو اوځمکي یې احاطه کړي) او د دواړو ساتنه یې نه ستومانه کوي او دي ډیر لوړ دي ډیر ستر دي .په دین کي اکراه نشته (په زورپه چا نه تپل کیږي)

دطالبانو یوه هیئت په پیښور کی له افغانی تجارانو سره وکتل

له تجارانوڅخه وغوښتل شول چی په افغانستان کی سرمایه گذاری وکړی

پیښور - دکب ٢٥ مه : پرون په پیښور کي دطالبانو یوه هیئت دافغاني تجـارانو له استازو سره وکتل . په پیښور کـي د طالبانو دتجارتي نمایندګي مرستیال مولوي خیرالله اویوه افغان سوداګر آقاملنګ امریکاغږ راډیو خبریال ته وویل له کندهارنه دطالبانو یوه

پاتی (٤) مخ (٥) ستون

دجهادی تنظیمونو غونډه کیدونکی ده

دطالبانو په ګډون

ددی غونډی دراببللو هڅی په تونډی روانی دی

دځینو جهادی مشرانو نظردادی چی غونډه دهیواد دننه جوړه شی

اسلام اباد هیله څرګنده کړی چی ددغی غونډی میزبانی وکړی

دکب - ٢٥ مه : دموثقومنابعو پـه حواله ویل شوي چي دطالبانو اوټولو جهادي تنظیمونو اوښکیلوارخونودمشرانو پـه ګـډون دافغانستان دمسئلي دحـل پـه خاطر ویړزیوه غونډه کیدونکي ده . پدي غونډه کـي به له روان بحران نه دوتلو په خاطر په افغانستان کي دیموکرت نظام په رامنځته کیدو خبري اترې وشي . ریوټ دمبصرینو دراپي په اساس وایي چي ددي غونډي درابللو هڅي په تونډي روانې دي اودغونډي دجوړولو لپاره به داسي ځاي وټاکل شي چي دطالبانوپه ګډون دمسئلي ټول ښکیل ارخونه پکي برخه واخستلاي شي، پدي باب دځینو جهادي مشرانو نظردادي چي داغونډه دي

پاتی «٤» مخ «٥» ستون

طالبان ٨٠٠ هزار نفر را آواره کرده اند

دولت حق دارد ازکشورهای خارجی مهمات خریداری کند

داکترعبدالله

مزارشریف - ٢٥ حوت : شوراي دفاع رهـبري طالبان را به نقض حقوق بشر، سلب آزادي مردم وتشکیل حکومت پولیسي درمناطق تحت کنترول شان درافغانستان متهم نمود . داکترعبدالله نطاق احمدشاه مسعود طالبان راملزم بـه دامن زدن اختلافات قومي ومذهبي و بدین ساختن مردم از

بقیه درستون «٣» صفحه «٤»

پالیسی پاکستان درقبال افغانستان تغییر نکرده است

پاکستان درقبال افغانستان معتقدبه اصل عدم مداخله میباشد

اسلام آباد - ٢٥ حوت : منابع افغان سیل در وزارت خارجه پاکستان گفته اند که پالیسي پاکستان درقبال افغانستان تغییرنکرده و دراین زمینه ازطرف حکومت مرکزي کدام هدایت ودستوري داده نشده است . در گزارش یك روزنامه محلي گفته شده که ممکن است هنگام اجـلاس ٢٤ مارچ سران کشورهـاي عضو سازمان کنفرانس اسلامي دراسلام آباد درمـورد ترتیب وتدوین یك پالیسي درسـت

بقیه صفحه (٤) ستون (٤)

جنگ درچندین جبهه جریان دارد

پروان - ٢٥ حوت : درگیري میان طالبان وقوت هاي احمدشاه مسعود پس ازیك وقفه طولاني درمربوطات گلبهاروکوهستان ازسرگرفته شد . داکترعبدالله سخنگوی احمد شاه مسعود بااېراز این مطلب گفت که نیروهاي آن هاطـي دو روز اخیر حملات طالبان درمناطـق کوهستان وگلبهار را

بقیه صفحه (٤) ستون (٤)

جنگ درشیخ علی ولولنج ادامه دارد

سه سنگرطالبان به تصرف حزب وحدت درامد

درگیري هاي پراګـنده میان طالبان ونیروهاي حزب وحدت درمنطقه شیخ علي ادامه دارد . یك منبع حزب وحدت اسلامي گفته است : بعدازساعت سه بعـد از ظهر روز جمعه نیروهاي طالبان مواضع حزب وحدت رادر خط اول جبهه هدف حمله قراردادند که درعکس العمل باآن نیروهاي حزب وحدت بر مراکز تجمع ومواضع سلاح هاي ثقیل طالبان یورش برده سه سنګـر طالبان را تصرف کردند . گزارش دراخیرحاکیست که درگیري ها درمنطقه شیخ علي ولولنج باعث ورود برخي ازخبرنگاران بـه این منطقه شده است. خبرنگاراني که ازمناطق تحت کنترول

بقیه درستون «٣» صفحه «٤»

د(٨) اسلامی هیوادومشران په استامبول کی غونډه کوی

استامبول - دکب ٢٥ مه : د(٨) اسلامي هیوادونو دمشرانو غونډه به دراتلونکي جـون دمیاشتي په اوږدوکي دترکیې په پایتخـت استامبول کي جوړه شي . دنړیوالو خبري آژانسونو درپوټ له مخي ددي غـونډي فیصله دترکیې په اتاتلیا ښارکي د٨ اسلامي هیوادونو دلوړ رتبه ماموریتو ترمینځ له دوو ورځو خبرو اترو وروسته رامنځ ته شوه . دترکیې داناتولي دخـبري آژانس له

پاتي «٤» مخ «٤» ستون

مسئله کشمیریها ازطریق گفتگوقابل حل است

اسلام آباد - ٢٥ حوت : پاکستان از برگزاري مذاکرات مسالمت آمیز باهند طرفداري مي کند اماتازمانیکه دهلي جدید فشـار و مظالم خودرا برمسلمانان کشمیري پایان ندهد، اسلام آباد هیچگونه انعطاف پذیري اي درقبال قضیه کشمیر از خـود نشان نخواهد داد . محمد نوازشریف صدراعظم پاکستان طي گفتگو باخبرنگاران در اسلام آباد راجع به موقف کشورش درمورد مذاکرات صلح میان هندوپاکستان ، اظهارداشت که آغازمذاکرات به این معني نیست که

بقیه صفحه (٤) ستون (١)

بهرام سدیروف اسیرشد

رضوان سدیروف لادرك است

دوشنبه - ٢٥ حوت : نیروهاي حکومت ونهضت اسلامي تاجکستان دریك عملیات مشترك نظامي درمنطقه آب گرم بهرام سدیروف رهبر گروه مسلح شورشي این منطقه را اسیرنمودند . طبق گزارش منابـع خبري ایران ظفرسیدیروف سخن گوي ریاست جمهوري

بقیه درستون «٢» صفحه «٤»

طالبان رهایی زندانیان فرانسوی را وعده دادند

کابل - ٢٥ حوت : اداره طالبان رسماً اعلان کرده که دوتبعه فرانسوي مربوط موسسه خیریه بین المللي موسوم به اقدام برضد گرسنگي را که چندي قبل دستگیر نموده بودند آزاد مي کنند . رادیو صداي شریعت به نقل از مسئولان اداره طالبان گزارش مي دهد :

بقیه درستون «٢» صفحه «٤»

بالامرغاب او تورغونډی دجګړی تاوده دګرونه دی

دبادغیس په دریومحاذونوکی خونړی جګړه روانه ده

بادغیس - دکب ٢٥ مه : دبادغیس ولایت په دریو بیلابیلو سیمو کي دطالبانو اودفاع شورا دځواکونو ترمنځ جګړې روانې دي . په ریوټ کي دجمعیت اسلامي دېخواني قوماندان اسمعیل خان دویاند له قوله ویل شوي چي د بادغیس ولایـت دبالامرغاب ، تـورغـنډي په سیمو کي دښکیلوډلو ترمنځ خونړۍ اودرنده جګړه روانه ده .

پاتي «٤» مخ «٤» ستون

نهضت اسلامی تاجکستان قتل سربازان روسی رامحکوم کرد

دوشنبه - ٢٥ حوت : باکشته شدن یك افسر بلندرتبه نظامي روسیه درشهردوشنبه پایتخت تاجکستان اوضاع دراین شهر متشنج شده است . خبرگزاري ایتارتاس گزارش مي دهد که « ولادیمر باچـین » قوماندان فرقه

بقیه درستون «٦» صفحه «٤»

صندوقی درهزاران متر پائین تر ازسطح آب

اسلام آباد - ٢٥ حوت : دربحرالکاهل هـزاران متر پائین تر ازسطح آب صندوقي یافـت شده که شصت فت طول داشته وباعـث تعجب ساینس دانان شده است . طبق گزارش « نواي وقت » تاحال ساینسدانان نتوانسته اند بفهمند که این صندوق سربسته و پراسرار کـه ماه نوامبر گذشته شناسایي شـده ساخته کجا وخطوطي که درآن نوشته میباشد ازکدام

بقیه درستون «٦» صفحه «٤»

جعل کاران افشا شدند

(١٠) افغان و(٣) پاکستانی دستگیرشدند

پشاور - ٢٥ حوت : دیپارتمنت تحقیقات مرکزي پشاور روپنجشنبه یك حلقه جعـل کاري اعزام افراد با اسنادبي اعتبار و غیر قانوني را خنثي نموده ١٣ نفـر منجمله مالك نمایندگي مسافربري شهررا در میدان هوایي بین المللي پشاور بازداشت نمود . به گزارش روزنامه فرانتیریسـت :. بازداشت شـده گان گل خـان مالك « یوسفزي تریولنگ ایجنسي » خیربازار، انورکارمند آن، صاحبزاده نماینده سفر وده نفر دیگر افغان هاهستند . افغان ها سوارطیاره اي سي شدند که قراربود به لاهور برود و آنهاازآنجابه قصد بانکوك پایتخت تایلند پرواز مي نمودند . سي دي آي متهمان را به روح الله

بقیه صفحه (٤) ستون (٤)

روزانه(١٦) طفل امریکایی هدف گلوله قرارمیگیرند

واشنگتن - ٢٥ حوت : میزان خودکشي درامریکا روبه افزایش بوده، و تمایل اطفال به این کار نسبت به طبقات دیگر مردم بیشتر است . روزنامه « نواي وقت » گزارش میدهد : به اساس گزارش سالانه اداره دفاع از اطفال « چلدرن دیفنس » بطور اوسط روزانه شش طفل اقـدام به خودکشي مینماید و ١٦ طفل هدف گلوله قرارمي گیرند . میزان خودکشي درامریکا نسبت به

بقیه صفحه (٤) ستون (٥)

نظامیان رژیم صهیونیستی اسرائیل جوان فلسطیني را شکنجه مینمایندکه مخالف یهودي سازي زاد گاهش است

پاکستان صدور ویزه به اتباع خارجی راموقتاً ممنوع اعلان کرده است

اسلام آباد - ٢٥ حوت : پاکستان صدورویزه بـه اتباع خارجي را موقتاً ممنوع اعلان کرده . طبق گزارش منابع خبري حکومت پاکستان به تمام سفارتخانه ها، قونسلگري ها ونمایندگي هاي سیاسي اش درخارج هدایت داده که ازاعطاي ویزه به اتباع خارجي خودداري نمایند . این اقـدام در راستاي اتخاذ تدابیر امنیتي شدید بخاطرتدویر کنفرانس سران کشورهاي عضو سازمـان کنفرانس اسلامي میباشد که قرار است روزشنبه دراسلام آباد دایرگردد. اعطاي ویزه به تاریخ ٢٨ مارچ دوباره آغاز خواهد شد .

المان ٢ملیون دالر به افغانستان کمك کرد

پشاور - ٢٤حوت : جورګن کلیزرسفیرآلمان مبلغ دوملیون دالررا بخاطر مساعدت با پروگرام ماین پاکی افغانستان به اداره هماهنگی کمکهای بشری سازمان ملل متحد به افغانستان (UNOCHA) اهداءکرد . دربیانیه' مطبوعاتی UNOCHA گفته شده، پول مذکور در بودجه مرکزتربیه سگهای موسسه ماین یابی که درنزدیکی پس (پشاور) موقعیت دارد واریزمی شود . موسسه مذکور سگها را بخاطر پیدا

بقیه صفحه (٤) ستون (٤)

جاپان پروگرام تهیه غذا برای مهاجرین داخل کشور راروی دست می گیرد

جاپان برنامه ئي راجهـت تهیه غذا براي مهاجرین افغانستان اعلان کرد . سفارت جاپان دراسلام آباد گفته است دوسوم این برنامه (٩.٨) ملیون دالري براي تهیه مواد مورد ضرورت آن عده از مهاجرین مصرف خواهد شد که درداخل افغانستان ازخانه وکاشانه شان رانده شده اند .

ابلاغیه کمیسیون حج

حزب اسلامي افغانستان کمیسیوني را جهت فراهم آوردن تسهیلات اداي فریضه حج براي هموطنان عزیز، موظف گردانیده است .

کمیسیون موظف مصارف مربوطه ،غیـر از پاسپورت ، را مبلـغ (٣٥٤٠٠) سي وپنج هزاروچهارصد روپیه پاکستاني برآورد کرده است که شامل موارد ذیل میگردد :

تکت دوطرفه ، ویزه، عودت ، خاك پولي، حق الزحمه، معلم، هزینه، تمام ترانسپورت بشمول رفت وآمد به مدینه منوره ، تصدیقنامه صحي ، هزینه، خروجي .

به اطلاع هموطنان عزیز عازم حج رسانیده میشود که جهت دریافت ویزه بادردست داشتن پاسپورت به کمیسیون حج مراجعه کنند . عازمین محترم حج میتوانند ازروز انتشار این ابلاغیه الي روز سه شنبه مورخ ٥ حمل سال ١٣٧٦ هجري شمسي مصادف با مورخ ٢٥ مارچ ١٩٩٧ میلادي ، به کمیسیون حج مراجعه کنند .

آدرس : پشاور - یونیورستي تاون - صاحبزاده عبدالقیوم رود - شماره C - ٤١، دفترکمیسیون امورسیاسي حزب .

شماره هاي تیلفون : (٨٤٠٢١٤) - (٨٤٠٣٥٣)

(٣-٥)

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
موسس : انجنیرحکمتیار
ناشر : ریاست ارشادوفرهنگ
تحت نظر هیئت تحریر
تیلیفون : (٢٦٢٤٨٧)
آدرس پستی : ١٠٣٦ یونیورستی تاون -پشاور

ددی دووجبهوتکر...!

څو ورځې دمخه چي دحزب امیر ورور « حکمتیار» له تهران نه دتلیفون له لاري په اسلام آباد کي مطبوعاتي کنفرانس درلود، نو یوه ژورنالست تري وپوښتل چي « څه فکرکوي طالبان به بامیان اوشمال ونیولاي شي ؟» .

دحزب امیر په ځواب کي ورته وویل چي « که هغه قوتونه چي طالبان ئي پرخلاف جنګیږي سره متحد نشي، په یوه طرحه توافق ونکړي اودیوي جبهي په حیث عمل ونکړي نوددي احتمال شته چي طالبان ئي له اختلاف نه ګټه پورته کړي اونور پرمختګونه هم وکړي ...»

واقعیت دادي چي د طالبانو مخالف لوري چي اوس دشمال دجبهي په نامه هم یادیږي ، دطالبانو په وړاندي یوه ښکاره کمزوري دالري چي نه دقوماندي له وحدت نه برخمن دي اونه دقیادت طرحي ، اجنډا اوهدف له وحدت نه .

په دي برسیره په جګړوکي اخلاقي وضعه دانګیزي موجودیت ، عامه ذهنیت ، او داحساس اوجذبي قوت ډیرکلیدي نقش لري .

جګړه اصلاً ددووطرفونو ترمنځ دارادو مقابله ده . دانګیزو ټکردي اودجذباتو معرکه ده . اصلي جګړه هغه وخت شروع کیږي چي دوه ارادي دیوي بلي په مقابل کي ودریږي،اوهره یوه دبلي دماتولو اومغلوبولو لپاره وروستي قدم واخلي . بیا چي کوم شي اهمیت مومي هغه دادي چي ولي، دکوم احساس اوکومي جذبي له مخي یوه اراده دبلي مغلوبول غواړي . یعني انګیزه څومره مقدسه ده ، څومره مضبوطه ده اوڅومره دیوه سپاهي وینه تودولاي، ایشولاي اوبالاخره توئیدو ته تیارولاي شي .

له دي اخوادامهمه ده چي عامه ذهنیت څه قضاوت کوي، دهري جبهي په باره کي ئي دریح اوپریکړه څه ده . خپل احساس ، خپل رجحان اوګټه دکومي جبهي په غلبه کي خوندي ګڼي اودکومي په بري کي تالا والا . که ددووجبهو ترمنځ داسي مقایسه وشي چي دپاس ټکیوپه معیارولاړه وي ، اوولیدل شي چي یوه یي په بله ډیره ښکاره برتري لري اوحتي داسي چي په ځینوا رخونو کي ئي مقایسه ممکنه نه وي، نو بیا دجګړي دنتیجي په باره کي نور عوامل لکه دکوم قوماندان تجربه ، شهرت، ابتکار، دوسلواوامکاناتویو څه برتري خپل اساسي تاثیرپه بشپړه توګه له لاسه ورکوي اوداغیزي له مخي ډیر فرعي شکل غوره کوي په همدي وجه ده چي ترڅو نظارشوري اوجنبش دطالبانو په وړاندي خپلي اخلاقي کمزورتیا، دانګیزي اوهدف خلا، اودځان په باب دولس دعمومي ذهنیت دقضاوت ستونزه ، حل اوپوره نکړي، ترهغې پوري ئي دبریالي مقابلي ضمانت نه خارجي پشتوانه ورکولاي شي، نه دکوم قوماندان چالاکي اوابتکار اونه دوسایلو پریماني .

ددغسي کمبودونو اوناخوالو ددرلودو په صورت کي هروخت ددي امکان شته چي نظارشوري اوجنبش له یوه ستراتکشاف سره مخامخ شي . البته دابیله موضوع ده چي دجګړي دایمي پاي اودبحران پایدارحل په څه کي دي ...

قسم په قرآن کی

حکمتیار

قلم

د قلم په سوری کی داسی راغلی :
والقلم ومایسطرون- ماانت بنعمة ربك بمجنون وان لك لاجراًغیرممنون وانك لعلی خلق عظیم .

په قلم اوپه هغه څه چي دوی ئي لیکی قسم ته دخپل رب په فضل مجنون نه یی - او تاله دوامداره اجردی -اوته دستر شخصیت او اخلاقو خاوندیی.

د قلم خاوندان چي څه لیکی، خپل افکار یا د پیغمبر (ع) په لاس لیږل شوی قرآن - همدا دواړه وګوری - د دی دواړو لیکل شوو ترمنځ به دځمکی او آسمان په فاصلی تفاوت احساس کړی او پدی حقیقت به پوه شی چي قرآن د بشر کلام نه بلکی د عالم الغیب و ا لشهاده خدای له لوری لیږل شوی کتاب دی، تاسو ته به خامخا دا خبره ثابته شی چي محمد (ع) د الله استازی دی .

النجم

پدی سوری کی د ستوروو په پریوتلووه شوی او وریسی ویلی شوی چي د پیغمبر (ع) په هکله د معاندینو ټول تبلیغات دروغجن اوبی اساسه دی - نه هغه بی لاری دی نه دهوکه شوی اونه له خپلی خوا او د خپلی خوښی خبره کوی دده خبره د الله له لوری ، ده ته ، وحی شوی خبره ده والنجم اذا هوی - ماضل صاحبکم وماغوی : قسم په ستوری کله چي پریوځي- ستاسو ملګری نه لارورکی دی ، اونه په کږی لارتللی - راشی وګورو چي د ستورو د پریوتو او ددی ادعا ترمنځ کوم ارتباط شته چي پیغمبر علیه السلام ، نه

لارورکه کړی اونه عملاً په کږی لارتللی ،چي ترڅو په آسمان کی ستوری بریښی ، شپه پاتی وی او ستا ماحول کی تیاره ده د شپی په تیاره کی دیوه شی په پیژندنه کی انسان معمولاً اشتباه کوی- شین شی توریه نظرورځی - له لری په توری تیری دحیوان ګمان کوی نه اشیاله یوه بل نه تفکیك کولی شی نه یی رنګونه اوصفات - خوکله چي ستوری پریوځی او شپه پای ته ورسیږی اولمر راپورته شی د هرڅه حقیقت انسان ته ښکاره کیږي .

تاسو د پیغمبر(ع) په هکله په تیاره کی د بی خبری په حال کی قضاوت کوي او دده په هکله دا او هغه ناروا اوله حقیقت نه لری تبصری کوی داسی په رڼاکی دده له اخلاقو اوافکارو نه د خبریدو نه وروسته دده په باب قضاوت وکړی . پدی صورت کی به تاسو ته ثابته شی چي هغه د خدای پیغمبردی اوهر خبره یی وحی .

البروج

د البروج په سورة کی داسی راغلی:
والسماء ذات البروج ، والیوم الموعود ، وشاهد و مشهود ، قتل اصحب الاخدود ، النارذات الوقود ، اذهم علیهاقعود ، وهم علی مایفعلون بالمؤمنین شهود .

په برجدار آسمان قسم ، او په هغه موعود ورځ ، او په هرلیدونکی اوهرلیدل شوی ، د کندوخاوندان تباه شول . د زیات سوزیدونکو اورکندی - کله چي د هغه په څنګ ناست ول او له هغه څه لیدونکی وی چي له مؤمنانو سره یی کول د برجونوخاوند آسمان نه مراد دادی چي آسمان یوی داسی مستحکمی اومحفوظی کلاته ورته دی چي په ډیردقت اونظم اوضبط سره دهغه جدی ساتنه کیږی او هیڅوك نشی توانیدی چي هغی ته ننوځی، چي کله څوك وغواړی دهغه په لوری مخکی ولاړشی - له هری خوا په شهاب ثاقب سره رټل کیږی . د واکدارانو او پاچاپانو قصرونو اوکلاګانو ته ورته- چی په مسلح ځارونکوحفاظت اوساتنه کیږي - د آسمان ددی کلاوو د برجونو او حصارونو ته آخوا، د مالك الملك خدای عرش دی .

آسمان لدی عظمت او خوروالی سره او په هغه کی دا دقیق اوکلك استحکامات په خپله پدی شهادت ورکوی چي زمونږ داکائنات ځانته ټولواك او مالك لری چی هرڅه ئی په خپل ځای کی ساتلی نه پریږدی چی د آسمان په غیږکی ساتل شوی اجرام -د یوه بل سره تصادم وکړی، یوبل جذب کړی یا یو د بل په مدارکی داخل شی - ددی سورة وروستی آیتونه ښیی چی لومړی قسم ، یواځې په همدی مطلب تاکید کوی، په وروستی آیتونوکی لولو :

الذی له ملك السموات والارض -هغه چی د ځمکی او آسمانونو پاچاهی دده ده ذوالعرش المجید - فعال لمایرید. د عرش خاوند ، باعظمته - دهرهغه څه ، له یوم الموعود څخه یاباید د قیامت موعود ورځ وی چي قرآن ئی د یوم الموعود په نامه یادوی او یا باید هغه موعود ورځ وی چي ذوانتقام خدای د ظالمانو د وروستی مواخذی لپاره ټاکلی په هغه ورځ چي الهی عذاب په ظالمانو نازلیږی، هماغه د مهلت پای، هماغه چي په تاریخ کی په وار وار تکرارشوی او قرآن یی د ایام الله په نامه یادوی.

ددی لپاره چي د قابل نقاش ادعا د اثبات لپاره په غیبی اومخاطب ته غیرمسلم شی باندی نشی کیدی ، پدی خاطر دلته له یوم الموعود نه قیامت نه بلکی هماغه په انسانی تاریخ کی په وار وار تکرارشوی موعود ورځ ده - د سورة په متن کی هم ګورو چي د دوو هغوباغی او عاصی قومونو په شوم عاقبت استدلال شوی چي په الهی مواخذی اخته شوی . لکه چي وایی : هل أتاك حدیث الجنود فرعون وثمود آیاتاته د هغولښکرو خبر دررسیدلی د فرعون اوثمود .

په بعدی آیت کی د شاهد اومشهود معنی هرشاهد اولیدونکی اوهرمشهود اولیدل شوی دی .هرشاهد پدی حقیقت شهادت ورکوی چی د ده پیداکوونکی خدای ، چی همدا صفت ئی په ده کی ایښی، حتماً بصیر دی او دده د کروړوشاهد دی - هرصفت چي په مخلوق کی موجود وی . همدا ښه صفت -هرومرو په اکمل او اتم بڼه کی ، ددی شی په پیداکوونکی اوخالق کی هم وی - د انسان سترګی پدی شهادت ورکوی چي دده پیداکوونکی خدای هم بصیردی- که په انسان کی د ښه اوبدترمنځ د قضاوت کولو استعداد شته ، ښه ته ښه او بدته بد وایی - داصفت پده کی دده پیدا کوونکی خدای ایښی چي طبیعی ده ، دده خدای به پدی صفت په کامل صورت کی متصف وی .

وروستی آیتونه ښیی چي په شاهد باندی لوړه همدا مطلب افاده کوی چې الله شاهد دی لکه چي په سوره کی لولو اوهرمشهود اولیدل شوی پدی شهادت ورکوی چي دده پیداکوونکی رب له هرعیب اونقص نه منزه دی .

قرآن په ډیر قاطعیت اوتاکید سره

پاتی (٤١) مخ (٥) ستون

طالبان وشورای دفاع در برابر هم ، بررسی احتمالات وامکانات

واصل حمید

ازجبهه جنګ اخبارمتضادي ميرسد . دراستقامت غوربند و شبر ظاهراً توازن قوا برقرار است. دربعضي گزارش ها مي آيد که طالبان درين استقامت بعضي نقاط و محلات راکه قبلاً تصرف نموده بودند دوباره ازدست داده اند وحتي جبهه ائتلاف مخالف طالبان ادعا ميکنند که تلفات زيادي را درين حدود به طالبان وارد نموده وسنگين ترين کوشش آنها رابسمت شمال کشور ناکام ساخته است .

اما راديوي بي بي سي ازقول رحيم الله يوسفزي خبرنگار اعزامي وپاکستاني خود که به غوربند فرستاده گزارش ديگري داده ، وي از روحيه عالي طالبان وازموفقيت هاي آنها درآن استقامت صحبت ميکند . دريك گزارش ديگرکه راجع به رويداد هاي جبهه غرب کشوريعني جبهه بادغيس منتشر گرديد، ادعاشده که شوراي دفاع حدود ٨٠ کيلومتر از ساحات طالبان را تحت تسلط خود درآورده اند ولي باوصف اين ادعا ها هنوز معلوم نيست که « قلعه نو » مرکزبادغيس بيشترتحت نفوذ کدام جبهه قراردارد . درجبهه شمال کابل يعني ساحاتيکه به اطراف غربي دره پنجشيرمربوط ميشود نيز از زدوخورد هاي يوميه گزارش هاي ميرسد . درين گزارش ها آمده است که چندين تلاش متمد طالبان براي تصرف قصبات کوهستاني درين حدود به شکست مواجه شده ونيروهاي طالبان در « سنجن » و « بولغين » متحمل تلفات وخسارات زيادي گرديده است .

شاهدان عيني گفته اند که براي شکستن مقاومت ساحات کاپيسا طالبان به خشونت زيادي متوسل شده وبه اضافه فشارهاي فزيکي وجسمي مردم به ترك محل ويا مجبور به تهيه غذاي جنگجويان طالبان نموده اند .

باتوجه به اينکه انجنيراحمد شاه مسعود به حيث يك فرمانده معروف وبااتبکار درجبهه کاپيسا رو بروي طالبان قراردارد، ناظرين اوضاع به واقعات جبهه کاپيسا وشمال کابل بديده ترديد مينگرند . ناظرين عقيده دارند که جنگ تمام عيار وزيردفاع سابق هنوز عليه طالبان آغازنشده است و جنگ هاي موجود درحدي است که طالبان رامصروف نگهدارد و ازنفوذ احتمالي آنها درساحات بيشترجلوگيري نمايد .

> محافلي که براي رويکار شدن يك حکومت غير مذهبي در افغانستان زمينه سازي ميکنند وازلحاظ تاکتيکي وعبوري به گروه طالبان کمك ميرسانند ، خيلي متوقع اند که طالبان هرچه زودتر بطرف درياي آمو برسند . بارسيدن طالبان بدرياي آمو هم مصارف گزافي که براي ادامه جنگ هموارد ميشود منقطع ميگردد و هم فرصت لازم براي انفصال طالبان ازجريان اقتدار وسياست فراميرسد .

قرارمعلوم فرمانده مسعود به مجاهدين تحت فرمان خود گفته است که خودرا براي جنگ هاي چريکي وفرسايشي دربرابر طالبان آماده ساخته وازهرگونه عجله کاري پرهيزنمايند . ناظرين ميگويند هفتاد درصد از مصروفيات جبهه احمدشاه مسعود فعلاً براي آمادگي جنگي وتدارکاتي اختصاص يافته است .

يك احتمال عمده ديگر براي کمتر فعال بودن جمعيت و شوراي نظار درشرايط فعلي اين است که سران جمعيت ميخواهند جنبش و حزب وحدت را در رويا رويي مستقيم جنگ نگهدارند ، توسعه جنگ درشمال کابل بمعناي پرشدن نيروهاي جمعيت دربرابر جنبش وحزب وحدت مي باشد . واضح است که درگيربودن دو موتلف جمعيت باطالبان ازنيروي آنها ميکاهد و درتقاضاي آنها براي سهمگيري امتيازات ، کسروکمبود مي آورد .

ازلحاظ موقفيت جنبش و حزب وحدت که بررسي نمائيم ، نقش آنها در شرايط فعلي ودرمقابله باطالبان براي هميشه تقريباً يك نقش غير تهاجمي است . اين دو نيرو حتي در صورت عقب نشيني وضعيف شدن طالبان نيز زمينه هاي کمتري رابراي پيشروي وکسب موقعيت تعيين کننده بطرف کابل دراختيار دارند .

ازخلال رويداد هاي جاري که بررسي شود شانس جنبش وحزب وحدت براي تشکيل يك خط دفاعي محکم دربرابر طالبان بسيارزيادمي باشد ولي بااينهم ، نمي توان احتمال سريع شدن وپيشرفت عمليات طالبان رادرين حدود ازنظر دور داشت .

بنابر وجوهات مختلف طالبان براي پيشروي درحدود مرکزي وساحات شمال کشور انگيزه هاي لازم دراختيار دارند که تائيدات محافل ذيعلاقه بيروني نيز بااين انگيزه ها همگام مي باشد . باتوجه بدونکته بالا، ميتوان ادعاکرد که مقاومت هاي اجراشده ازطرف جنبش و حزب وحدت دربرابر طالبان قوي وقابل توجه بوده است .

محافلي که براي رويکار شدن يك

بقيه درستون (٢) صفحه (٣)

ترکیه
د« رفاه اسلامی ګوند » او « بی دینه پوځ » ترمنځ !

داحمدضیاء « رحیمزی » ژباړه

پوکال وړاندي چي کله پروفیسرنجم الدین اربکان دڅواکمن سیکولر (بی دینه) پوځ او لویدیز پلوه اتحادیونو دموجودیت سره سره دقدرت دواګو اخیستوته تیاري ښودلي و ، نوحتماً به دهغه په وړاندي ډیري داسي نوري خبري هم وي .

په الجزایر اوترکیه کي داسلامي تحریك تر محبوبیت وړاندي عام ذهنیت داو چي که په هیوادکي ډیموکراسي نظام حاکم و، او دعوامو اکثریت داسلامي نظام راتلل غوښتل، نوولس داسلامي نظریاتو درلودونکي ګوند ته رایه ورکولاي شي چي وروسته بیا دغه ګوند دقانون جوړوني له لاري اسلامي نظام په ملك کي نافذولاي شي. داهغه وخت و چي په خپله دلویدیزو پوهانو اوداشمندانو نظرهم داسي و . خوپه الجزایر کي څو کاله وړاندي راپیداشوي اوضاع ثابته کړه چي اسلامي نظام دلویدیزي ډیموکراسي دټولو شرطونو دپوره کولو سره سره نشي کولاي دننني اقتدار مانیوته لارپیداکړي .

اوس لومړي پوښتنه داده چي اسلامي نظام ولي نشي کولاي دننني زماني داقتدار مانیوته لارپیدا کړي ؟

په ساده ټکیوکي ددي ځواب دادي چي دلویدیز دګټوپرخلاف دي .

دوهمه پوښتنه داده چي پدي لارکي ترټولو ستر خنډ کوم دي ؟ ددي ځواب ډیر وروکي دي یعني پوځ .

که دغه دواړه ځوابونه سره یوځاي کړو اوسوچ پري وکړو نو دا تناده اوڅرګند حقیقت تري په لاس راځي چي فعلاً دمسلمانو هیوادو پوځونه پدي هیوادو کي دلویدیز دګټو دساتونکي نقش ترسره کوي. ظاهراً هغوي دخپلو پولو ساتنه کوي خوپه اصل کي دهغوي کاردلویدیز دګټو ساتنه دي، اوداخبره ددي پوځونو له تشکیل او حرفوي او مسلکي کارکړلوڅخه پوهیدل کیږي .

په ایران کي داسلامي انقلاب په لارکي ترټولو ستر خنډ پوځ جوړ شوي و . په الجزایر کي دکلك ایمانه مسلمانانو وینې دپوځیانو په لاس توبي شوي او اوس په ترکیه کي پوځل بیا همداوضعه را روانه ده چیرته چي له یوي اوږدي مودي نه بي صلاحیته بلل شوي دملي امنیت شورا اداره ، دلویدیز پالنه نظام دزوال په لیدو سره یوځل بیا پرونه را ایستلي دي .

فعلاً په ترکیه کي درفاه اسلامي ګوند اوسیکولر پوځ ترمنځ دکشمکش په لړکي ترټولو په زړه پوري اړخ دادي چي د « اربکان » سیکولرو مخالفینو سره ددي خبري هیڅ پرواه نشته چي ددیموکراسي داصولو په اساس دولس داکثریت نظر اورایه څه ده ؟ هغوي څه غواړي ، اوڅه نه؟

هغوي یوازي یوه خبره کوي اوهغه داچي باید دسیکولر اصولو، اقدار اوبنیادونو ساتنه وشي . او داخبره دترکیي دسیکولر پوځ جنرالان یوازي په خپل هیواد کي نه کوي بلکه دلویدیزي ډیموکراسي دټولو لوي پهلوان په پایتخت (واشنګټن) کي هم ددوي دریځ دادي، اوددوي ددي موقف اوریدونکي ددیموکراسي قهرمانان هم پسردي دپوهیدلو ضرورت نه احساسوي چي آیا ولس هم دسیکولرزم دبنیادونو دمضبوتولو سره څه دلچسپي لري که نه ؟

اوس پوښتنه داده چي دترکیي پوځ ولي پریښودل چي رفاه ګوند دقدرت واګي ترلاسه کړي ؟ ددي پوښتني ځواب دادي چي پرکال وړاندي دترکیي پوځ اولویدیز استعمارګومان

درلود چي که « رفاه » ګوند ته واك منتقل نکړي، نو ددي ګوند محبوبیت به نورهم زیات شي او که واك ورته منتقل شي نو ولس به دهغوي پرناکامي پوه شي، ځکه د « رفاه » ګوند له حکومت سره به سیکولره بیروکراسي، سیکولر پوځ اوسیکولره سوداګره طبقه مرسته ونکړي .

خودزماني په تیریدو سره دپوځ تحلیل غلط او د« اربکان » خیالات سم راوختل، ترکیي په اقتصادي لارکي خپل ګامونه مضبوط کړل ، په ورروستیو اونیوکي په ترکیه کي ده اجاره داري ، پاشخصي ګرځولو

پاتی (٤) مخ (٦٠) ستون

چې کشور دافغانانو معطر کا
دهر بیت مصراع مې زلفې د خوبان کړی

رحمان بابا

غزل

ما په خان لسپدلی حکم د کتاب دی
د احمق خواب خواب هم نه خواب دی
بې هنرچي هیڅ هنرورځخه نه وي
له هغه سره صحبت د روح عذاب دی
چې د پلار په رنګ وخوی نه وی زوولی
هغه زوی بیګانه د بل انساب دی
له فاسدی نطفی هیڅوک پیدا نه شه
که اولاد د پیغمبردی هم خراب دی
څوچي آب وی دجوهرقیمت یې هومره
ناصفاجوهریه څه کړی چې بې آب دی
په ګټې کې چې لذت د ګټې نه وي
د څنګله د خالي نې سره حساب دی
د دانا، د کاناکارځنه نورځه دی
حکایت د شنه طوطي او د غراب دی
خدایه ! ته مې په هرلور په چیرته بیایې
تارماوته اچولی داطناب دی
چې همت یکې ترخان په هورته پریوت و
په زړه کښې طلب خکه دآفتاب دی
په هودونوکښې به ومرم هم به پایم
په پیری کښې مې چې جهل د شباب دی
زه هم اوس په مصلحت درته تیاریم
مرګه ! ستاکه څه وماوته شتاب دی
د خوشحال ختك د حال پوښتنه څه کړی
د وښو په اوربې تنه زړه کباب دی

غزل

په کاته کاته مې سترګې په خاته شي
چې خبرېی د راتلو را باندې وشي
ته خو اوس له مانه ولاړې مرورشوی
دازما یاری دی هم ګوندی په زړه شي
چې دیدن د محبوب وکړمه تازه شم
لکه کښت چې په باران سره اوبه شي
ګوره تا رابانډې کومې کودې وکړ ي
که په پښو درختې دروم زړه مې نه شي
په ارمان دهغه وخت یم دریغه دریغه
که د زنې سبب یې بیا ز ما په خوله شي
د خپل یار د جدایې هې کاردی
لکه روح چې له وجوده په واته شي
بخته ! هومره مدد بیا راسره وکړه
چې په غیږ کښې مې بیا تللی یار ویده شي
د «خوشحال» سلام په واړو ښویارانو
ګوندی بیا مې په لیدو سره زړه ښه شي
«د پټې خزانې له (٨٠) مخ نه»

پرونی اتل ·

تریرون چې قهرمان ؤ هغه څوك و	تنګبالي چې د میدان ؤ هغه څوك و ؟
چې طلسم ئې د سور ښکیلاك ورمات کړ	بت شکن چې د جهان و هغه څوك و ؟
چې ئې وګاټه اندلس، بخارا ، دواړه	قطیبه چې د زمان ؤهغه څوك و ؟
چې دنیائې کړه له سروخرسانوخلاصه	الحاوبت ته چې طوفان وهغه څوك و ؟
غلامان ئې چې دهریت سره ناپوه کړل	سورښکیلاك ته چې خزان وهغه څوك و؟
چې تازه ئې جهادي خاطرې بیا کړې	په لړزه چې ترې روسان و هغه څوك و ؟
خرڅه خاورې ئې چې و اخیسته په وینو	د وطن چې قدردان ؤهغه څوك و ؟
چې حرام ئې ؤ په خان د نازخوبونه	مدافع چې د قرآن ؤ هغه څوك و ؟
چې پسرون ئې بیا تاریخ په وینو وکښه	ددې خاورې چې پاسبان ؤ هغه څوك ؤ ؟

سوال له تادې «محمودې» په ریښتیاوایه
چې اتل او پهلوان ؤ هغه څوك ؤ ؛

لږوخاندئ

سپاهي ! قاتل ته ! تاهغه ولې په تومانچه وواژه ؟
قاتل:اماسره د تومانچې اجازت نامه شته، هسې مې نه دی وژلی
*** .
پلار– زوی ته ازویه ! زه چې ستا په عمروم ، نو ماهیڅکله دروغ ویلی نه وو .
زوی:ښه نو پلاره تاسې له کله نه دروغ ویل پیل کړي دی .
***
استاذ – شاګرد ته ! داتم هیزی څوښځې وی ؟
شاګرد : شپږ
استاذ: ښه نوشماریې کړه کومې کومې !
شاګرد : یوه ، دوه ، درې ، څلور، پنځه ، شپږ.
***
ښځه – خاوند ته : خدای مه کړه که موږ کره غله راغلل نو ته به څه کوې ؟
خاوند: هغه څه به کوم چې څه راته غله وایې . ځکه چې مالا په دغه کورکې تراوسه په خپله خوښه څه نه دي کړي.

د ادب ورځي !

احساس

پسرلی

د ژمي په تیریدوسره یوکال پای ته ورسیږي او د پسرلي په رارسیدو سره نوی کال پیل شي، د تیرکال د ژمي یخني واوری او له امله یې مشکلات پای ته ورسیږي او د پسرلی اونوي کال په رادبره کیدو سره انسانان دتولنیزو اوخانګړیو چارو د سرته رسولو له پاره په نویوولولو په کار اوفعالیت پیل کوي .

د همدغونویو ولولو د لا تاندولو اوتوندولو په خاطر د پسرلی د راتګ جشنونه څانحل کیږي د پسرلی د تاندوګلانو ، غوټیو ، فصلونو ، باغونو تازه هواګانو ، آبشارونو او په دې باب د بشري ټولنې نویو احساساتو اوجذباتو ستاینې کیږي زموږ په ټولنه کې شاعران پرې شعرونه وایي اولیکوالان یې د ښیګړو په باب د ښکلا مرغلرې د نثر پر ښکلیو تارونو پیې څوك پسرلی ستایي اوڅوك یې ښکلاګانې ، څوك یې د بیدیاو د ګلانو په ستاینه نه مړیږي اوڅوك یې د باغونو او مانیو د ګلبڼونو په ستاینو ښه راغلاست بدرګه کوي ، څوك یې د بلبلانو سندریز آ وازونه زړه وروتکي بولي ، څوك بې بیا د بوراګانو فطري موسیقی خان ته حیران کړی وي ، چاته په تازه هوا کښې د زانوکتارونه د پسرلی د ښکلاسوغات ښکاري او چاته بیا د ګودرپه لور د پیغلوټوکتارونه د پسرلی د ګلالیو مازدیګرونو یاد ګاري او په زړه پوری شیبې وي څوك په ګودرپسې لیوني وی اوڅوك یې د شنومنګوټو او سرو سالوګانو په باب د عشق اومینې سندرې وایي .

هوا د پسرلي مفهوم په اصل کښې تاندوالی اوښیرازی ده ، د نوي ژوندانه پیل پسرلی او د ژوندانه پای خزان دی ، او دغه پیل او پای هلته ارزښت لري چیرې چې په پسرلی پسې منې راځي او په منې پسې پسرلی. خوچیرته چې له ګلونوګلونو داسې ټول موسمونه خزانونه وي . د پسرلی څرك هم نه ښکاری هلته به د پسرلي مفهوم اومعنی څه وي ؟

زموږهیواد اوټولنه له دوه لسیزو راسې همدغسې له خزانونو سره مخ ده . پرهرڅه د خزان (منې) موسم راغلی دی. پرځاناتوموخزان راغلی دی ، پرفصلونو، باغونو، ګلونو، میوو، ځنګلونو غرونو، بیدیاوو، ودانیو، پلونو، سرکونو،کورونو، کلیو، بانډو، قریو ولسونو، ښارونو، ښتمنیو، ویاړنو... مو د خزان لاڅه چې د یوه بې سراو پایه توپان سیلی را الوتې ده ، هرڅه رانه لوټل کیږي ، تالاکیږي ، ویجاړیږي ، اخیستل کیږي.

دایې لاڅه چې احساسات لوټل کیږي ، د جذباتو خون اخیستل کیږي، پروجدان اوضمیر د خاورو امباروته اړول کیږي او حتی خدای (ج) مه کړه چې د لکونوککریو پرپایلات له ښکیلاك نه ګټلی آزادی مو د اقتدار له هوس نه لوګي کړه او په لوی لاس موخانونه د حبنباك په لوموکښې د ښکیلولوله پاره تیارکړی دي.

نو آیا وی به داسې څوك چې د دې شل کلن خزان د پای ته رسولو له پاره زموږ د مظلوم اومجبوروولس د آزادی، خپلواکی ورورولی ، قامولی ، ګډژوند او ژواك، د ګډ کور اوګډواك دګډهیواد او تاټوبي او بالاخره د ګډ ژوند اوګډ مړك احساسات را ژوندی کړي او په هیواد کښې له شل کلن منې وروسته د پوربښتي او دوامدارپسرلي د راتګ له پاره لاره هواره کړي .

کوچنی غازی

لنده کیسه

